DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز سلنې ځپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ.ش

سال سوم شماره سی وهشتم
شماره مسلسل ۱۱۸
چهارشنبه ۷ حوت ۱۳۸۱هـ.ش
۲۵ ذالحجه الحرام ۱۴۲۲هـ.ق
26 February 2003

PROPERTY OF ACKU

په کندهار کی بله بمی چاودنه

دکندهار چارواکو ویلي چې د دوشنبې په ورځ د یوه دولتي چارواکی د کور تر څنګ بمي چاودنه شوي ده . دغه بم د کندهار د ښوونی او روزنی د رئیس داود برک د استوګنځي تر څنګ ایښودل شوی و خو ځاني زیان یې نه درلود .

چارواکو ددغې چاودنې پرې پر ګلبدین حکمتیار او د طالبانو په پلویانو ور اچولې ده .

جسد وزیر معادن وصنایع هنوزبه دست نیامده است

عمله نجات دیروز هم به تلاش جهت دریافت جسد شهید جمعه محمد محمدی وزیر معدن وصنایع کشور ودوتن ازهمکاران وی که روز دوشنبه درحادثه سقوط طیاره کشته شدند ادامه دادند .

این طیاره که به شمول جسد مرحوم جمعه محمد محمدی هشت تن سرنشین داشت پس از پرواز ازمیدان هوایی کراچی دربحر سقوط کرد سخنگوی نیروی بحری پاکستان روشن خیال گفت مساعي ممکن به راه انداخته شده تا جمعه محمد محمدی ودوتن دیگر را دریابند.خیال گفت گمان می رود نواقص تخنیکی سبب سقوط طیاره گردیده باشد اجساد پنج نفر بشمول سه تن افغان ودوپیلوت پاکستانی بعدازسقوط طیاره بدست آمده است .

غم مخور ای خانه ویران ولی زیبای من* با نفسهای امیدم دم به دم میسازمت
تانو زیباترشوی ګل میشوم ګل میشوم* باورم کن یک رقم نی یک رقم میسازمت

صدام د "الشمود" د توغندیو له ویجاړې ډډه وکړه

د عراق ولسمشر صدام حسین ویلي چې دی به د الشمود نومو توغندیو د ویجاړې امر ور نه کړي دا ځکه چې دا تر ټاکلي اندازي کم واټن وهي او باید ملګري ملتونو له دوی سره د عراق سره خبري وکړي .

دسره خبري وکړي دغه توغندي چې لنډ واټن او د بیړۍ ضد و د جنوبي کوریا او جاپان تر منځ ولاړو نړیوالو شاغلی حسین له ولسمشر بوش څخه غوښتنه کړي چې له ده سره د تلویزیون له لاري مخامخ خبري او مناقشه وکړي .

دغو خبرو کولو څخه ډډه کړي او ویلي یې دي چې د صدام حسین وخت پای ته رسیدلی او باید د ملګرو ملتونو دویم پریکړه لیک عملي بڼه غوره کړي .

درادامه کمک های کشورهند

سه عرده موتر تاتا مساعدت کشورهند دیروز درشهر کابل شروع به فعالیت نمود.

به گزارش آژانس اطلاعاتی باختر درمحفل که به این مناسبت درتالار وزارت ترانسپورت تدویر یافته بود محترم سید علی جاوید وزیر ترانسپورت از همکاری کشورهند اظهارقدردانی نمود.

بعداً شازدافیرسفارت هند مقیم کابل طی صحبتی گفت کشورش درنظر دارد تعداددیگری از بس های شهری را به وزارت ترانسپورت افغانستان مساعدت کند.قابل یاددهانی است که درگذشته نیز کشورهند یکصدوپنج عراده بس شهری را به وزارت ترانسپورت مساعدت نموده بود.

دستگیری ده رهزن

ده تن به اتهام قطاع الطریقی توسط موظفین امنیتی ولایت زابل دستگیرشده اند .

آژانس اطلاعاتی باختر گزارش میدهد.

ده تن افراد مسلح که شب یکشنبه چارحوت درمنطقه جلدک ولسوالی شهر صفا ولایت زابل واقع درمسیر شاهراه کابل -کندهار که با توقف دادن سه عراده بس سه صدوسه دست به سرقت مسلحانه زده بودند بالفعل گرفتار شدندازنزد سارقین شش پایه تلویزیون ،بیست ونه پایه سیپ موتر بیست ونه پایه گیس وشش هزار افغانی پول نقد ملکیت دریوران بس های متذکره بدست آمده است .

موظفین امنیتی ولایت زابل افزوده اند که اموال مسروقه به مالکین آنها تسلیم داده شده وقضیه تحت بررسی قرار دارد .

د لوړې اړې ښوونکې خدای په نامه

سرمقاله

مقننه مصروف است واجرائیه شریک قاضی دستم به دامنت!

سیت های موبایل موصول به دستگاه افغان بیسیم،طی یک بیست وچهارساعت دیگر،دربرابر تلاش ناکام مشتریان برای تماس باهمدیگر،صرف صورت مصرف ارایه داد وبدین ترتیب دزدی نه،که چپاول آشکارآن موسسه ازدارایی مردم همچنان ادامه یافت .

استقبال مشترکین به ستوه آمده افغان بیسیم ازنوشته ء،تحت عنوان "افغان بیسیم باید حق السکوت بپردازد" به قلم وقدم،به نشانی این روزنامه ،بازهم افتخار بیان واقعیت ملموسی را درحالی به "اراده" داده است که مقامات قضایی ومراجع بازخواست گر کشور،درمقابل نقض تعهدات افغان بیسیم بامشتریان آن ،سکوت دارند.

شاید اگر مشتریان افغان بیسیم به موقع آن،ازجزئیات مفاد قرار دادفی مابین وزارت محترم مخابرات وموسسه متذکره وتعهدات آنان دربرابرهمدیگر،آگاه می بودند ،درآنصورت برای دفاع ازحق مسلم شان ،مسلماً که درب مقامات قضایی کشوررا می کوفتند وافغان بیسیم چنین دزدی چراغ به کف نمی شد .

درحال حاضر،اقامه دعوی مشتریان افغان بیسیم درمقابل افغان بیسیم ،به مقامات قضایی کشور،سکوت های طولانی دستگاه این موسسه درطول سه شبانه روز گذشته وهمچنان قاپیدن پول های مشتریان ازطریق ارائه صورت مصرف هایست که پس ازتلاش ناکام مشتریان برای تماس باهمدیگر،ازطریق کمپیوتر ،به سیت های موبایل داده شده است .

پخش مفاد قرار داده عقد شده با موسسه افغان بیسیم ،ازطریق وسایل ارتباط همگانی وتعهدات آن موسسه با مشتریانش وهکذا تعیین حدود جبران خساره ای که هموطنان ما درمقابل سکوت های مقطعی دستگاه متحمل میشوند،ضروری بدانجهت است که بازهم درصورت عدم پرداخت مسوولین کشوری ،مردم خودبرای دفاع از حق خویش افغان بیسیم را یخن گیرشوند.

شمالي کوریا د توغندي آزموینه تر سره کړه

د شمالي کوریا پوځي چارواکو پر داسي مهال د یوه لنډ واټن ویشتونکي توغندي آزموینه تر سره کړه چې د جنوبي کوریا نوي ولسمشر د لوړې مراسم تر سره کول .

دغه توغندي چې لنډ واټن او د بیړۍ ضد و د جنوبي کوریا او جاپان تر منځ ولاړو نړیوالو اوبو کې ولوید .

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول چې په جنوبي کوریا کې د لوړې په مراسمو کې ګډون درلود د توغندي دا آزموینه دومره ګواښمنه ونه بلله او جاپان هم په دې اړه تراوسه څه غبرګون نه دی ښودلی .

صورت مهاجرین باید برمبنای یک میکانیزم سنجیده شده صورت گیرد

پروسه عودت مهاجرین افغان باید داوطلبانه ،تدریجی ،قابل کنترول ومبنی بریک میکانیزم سنجیده شده صورت گیرد این مطلب را عنایت الله نظری وزیر امور مهاجرین وعودت کنندگان دیروزطی دیدارش با سفیر کشورآلمان ابراز داشت .

دراین دیدارروزیرامورمهاجرین وعودت کنندگان پالیسی وستراتیژی دولت انتقالی اسلامی افغانستان دررابطه به عودت مهاجرین افغان به نماینده دولت آلمان تشریح نمود .

د سولې لپاره یې ټینګې وکړې

په پاکستان کې د پارلماني ټاکنو په ترڅ کې پوځي پلوه د مسلم لیګ قایداعظم ډلې ډیرې چوکۍ ګټلې دي .

ددغو ټاکنو رسمي پایلې ښیي چې دغې ډلې د پارلمان له اته اتیا چوکیو څخه دوه دیرش چوکۍ ګټلې دي . له بل پلوه د مذهبی ډلو ټلوالی په دغو پارلماني ټاکنو کې شل چوکۍ ګټلې دي او د پاتې چوکیو لپاره به نوري رایې اچول کیږي .

مسوده یک قطعنامه به شورای امنیت سپرده شد

ایالات متحده برطانیه وهسپانیه مسوده یک قطعنامه، را به شورای امنیت ملل متحد ارائیه کرده که می گویدبغدادفرصت اخیربرای خلع سلاح را ازدست داده است این درحالی است که آلمان ،فرانسه وروسیه یک یاداشتی را به شورای امنیت تقدیم کرده که درآن به جای جنگ درعراق دادن وقت بیشتر به مفتشین سلاح تقاضاء شده است .

مسوده که ازسوی امریکا وکشورهای همنظرش ارائیه شده است می گویدکه عراق ازقطعنامه شماره ۱۴۴۱شورای امنیت که درماه عقرب گذشته صادر شده است تخطی کرده است .

متن این قطع نامه از عراق تقاضامی کند ازتسلیحات کشتارجمعی که دردست دارد دست بکشدورنه به نتایج بد روبروخواهد شد.

خواندنیهای جالب ص(۳)

غږوال

په سوله کې ټولنیز ژوند وده کوی

لکه څنګه چې یو باغ اوبو، سرې او نورې خصمانې ته ضرورت لري او ددغو ضرورتونه په پوره کولو سره یو باغوان دا تمه لرلی شي چې باغ به یې ښه میوه ورکړي او زیات حاصل به تري تر لاسه کړي دغه شان یوه ټولنه هم پخپل اجتماعي ژوند کې سولې، امن او ثبات ته ضرورت لري تر څو ددغو ستړو نعمتونو له برکته د هوسا او ډاډمن ژوند خاوندان شي، او یخپل اجتماعي ژوند کې ټول ورته متوجه خندونه او مشکلات په ډاډه زړه له منځه یوسي.

خو که کومه ټولنه له دغه ستر نعمت څخه بې برخې وي او وګړي یې پخپلو کې سره لاس او ګریوان وي، نو یقیناً چې هغه ټولنه د ډېرو بدبختو او بد مرغو ټولنو په سرکې راځي، ځکه دهغې ټولنې وګړي د خپل منځي کشمکش له امله ددې موقع نه شي تر لاسه کولای چې د خپلو ورځنیو مشکلاتو د له منځه وړلو په اړه فکر وکړي او خپل ورځنی اجتماعي ژوند هغه شان عیار کړي چې د یوې ټولنې وګړي ورته ضرورت لري.

دا چې موږ سوله یادوو، د امن او ثبات په باب خبرې کوو، نو د خپل تیر درویشت کلن ناورین تریخ تاریخ مو مخې ته انځور شي ځکه دغه درویشت کلن تاړاک زموږ د مسلمان ملت ټوله ملي او شخصي شتمني په اوبو لاهو کړه او زموږ د مسلمانو خلکو ټول آرمانونه یې تر خاورو لاندې کړل، زموږ ځوریدلو او کړیدلو هېوادوالو په پرله پسې توګه د جګړې تریخ خوند وځکلو او هغه ناخوالې او نادودې یې وزغملې چې د دوامدارو جګړو له امله ورته متوجه وې، ځکه خو نو اوس د هر افغان له خولې څخه که هغه نارینه دي او که ښځینه، که هغه ځوانان دي او که ماشومان او که هغه تعلیمیافته دي او که بې تعلیمه د سولې امن او ثبات آواز راوزي او د یوه روښانه راتلونکي په تمه شپې سبا کوي.

افغانان که له یوې خوا پخپل خواږه هېواد ګران افغانستان کې د سولې له ټینګښت او ثبات سره مینه لري نو له بلې خوا په ټوله انساني نړۍ کې سوله او امن یو عاجل ضرورت بولي او دا هیله لري چې د نړۍ ټول انسانان به د نړیوال امن له په پام کې نیولو سره د یو اوبل حقوق محترم و شمېري او داسې لاړې چارې به خپلې کړې چې په نتیجه کې یې ټول بشریت ته نېکمرغي او هوسایي په نصیب شي ځکه ننني تمدن او ننني تخنیک د یوې اوږدې سولې زیږنده دي او انسانان ددې جوګه شوي دي چې د دوامداري سولې په لرلو سره د اجتماعي ژوند د سمون په اړه ګټور پروګرامونه تر لاس لاندې ونیسي او د تمدن هغو پوړیو ته ورسیږي چې د بشریت د نېکمرغۍ ضمانت کوي.

دا چې په نړۍ کې اوسنی روان کړکیچ د څه ډول حالاتو زیږنده دی او ولې متمدنه نړۍ د جګړې ګوابښ کوي په دې اړه د نړۍ ټول بشریت ته لوړ آواز پر هغوي باندې غږ کوي چې د زور پر ځای دی له تامل او پراخې حوصلې نه کار واخلي ځکه په دې دوی هم پوهیږي چې جنګ د تباهۍ نوم دی او د جنګ په نتیجه کې که له یوې بې شمېره بې ګناه انسانان وژل کیږي نو له بلې خوا نوري زیاتې خرابۍ هم له ځانه سره لري او بالاخره ټول بشریت له تباهۍ او بربادۍ سره مخامخ کوي.

افغانان هیله لري چې په عامه توګه په ټوله نړۍ او په ځانګړې توګه په ګران هېواد افغانستان کې د جګړې کلتور بالکل له منځه ولاړ شي او هغه بدبختۍ او ناخوالې چې د جګړې له امله انسانانو او په خاصه توګه افغانانو ته متوجه کیدای شي بالکل له منځه ولاړې شي او موږ د ټولې انساني ټولنې له پراخو پرګنو سره یو ځای د هوسا ژوند خاوندان شو.

پر عراق د احتمالي بریدونو په اړه د افغانانو څرګندونې

رحمت الله کوشر

پر عراق د احتمالي بريد په اړه د افغانانو څرګندونې د عراق اولس د يوې نا اعلان شوې جګړې تریخ انتظار کوي. د يوې داسې لړزونکې او درندې جګړې انتظار کوي چې پیل به يې په دری زړه درندو بمونو پرمختللې تیکنالوجي او ځواکمن هوايي ځواک بدرګه کیږي. داسي بریښي چې جګړه د پیل وخت ته نیږدې شوي ده او متحده ایالات غواړي چې خپل ستر غلیم صدام حسین د پوځي ځواک په کارولو سره وټکوي او د عراق له سیاسي اتموسفیر څخه يې د باندې و باسي. د عراق پر ضد دا جګړه متحده ایالات رهبري کوي چې په څنګ کې يې نور ملګري هم مټ او مرسته کوي. هو متحده ایالات د عراق پر ضد د احتمالي بريد مشري کوي دا هغه هیواد دی چې همدا اوس يې تر اووه زره زیات ځواک په افغانستان کې نظامي حضور لري.

دغه امریکايي ځواک د طالبانو او القاعدې د پلویانو پسې د افغانستان غرونه، غارونه او سوړې لټوي له بل پلوه په کابل کې دامنیت او سر ساتنې چارې نړیوال سوله ساتونکي ځواک پر غاړه لري. په دغه ځواک کې جرمني او فرانسه هم خپل سر تیري لري چې همدا اوس يې جرمني او هالنډ سرسمبالو ونکي دي. جرمني او فرانسه هغه هیوادونه دي چې له امریکا او ملګرو سره يې پر عراق د بريد په اړه ژور اختلاف لري. دا که پر عراق احتمالي جګړه د احتمال له پولې څخه واوړي او پیل شي. دغه بريد به په افغانستان څومره او څرنګه اغیز وکړي؟ عام وګړي به دا جګړه څرنګه استقبال کړي؟ د خیر ښیګڼې د ټولنو بهرني کار کوونکي به کومه لاره خپلوي؟ دا او نورې پوښتنې مو له څو تنو عامو افغانانو سره را برسیره کړې چې تاسې يې لوستلو ته رابولو:

احمد ضیا چې د اجتماعي علومو د پوهنځي د څلورم صنف محصل دی پر عراق د احتمالي بريد او ددغه بريد اغیزې په افغانستان داسې بیانوي: داسې پریښي چې متحده ایالات به بريد شروع کړي دا چې ددغه بريد په وړاندې به عام افغانان څه ډول غبرګون وښیي دا به هله معلوم شي چې کله بريد شروع شي او ددغه بريد نورې اغېزې پر افغانستان هم کیدلای شي خپل سیوری وغورځوي.

خو عزیز الله چې د پلورلو چارې پرمخ بیایي بیا پر عراق د بريد مخالفت کوي او وایي دایو غیر عادلانه کار دي چې امریکا پر عراق بريد کوي. نور محمد چې د کابا پوهنتون د حقوقو د پوهنځي محصل دی وایي چې که متحده ایالات له عراق سره جګړه شروع کړي نو دا جګړه به په افغانستان کې له غبرګون سره مخامخ شي اوهمدا ناوړه غبرګون به د خیر به ټولنو لویدیزوال کارکونکي دي ته اړ باسي چې له افغانستان څخه ووځي او ددغو کارکوونکو وتل به د افغانستان د خلکو سره بشري مرستې په ټپه ودروي.

غلام صادق د کابل یو بل اوسیدونکی عجیبه خبرې کوي او وایي که متحده ایالات پر عراق بريد وکړي کیدلای شي دا جګړه ډیره اوږده شي او احتمالاً متحده ایالات افغانستان له خپلې حافظې وباسي. ډاکټر یوسف چې په کابل ښار کې درملتون لري په دې اړه داسې څرګندوني لري: که امریکا پر عراق بريد وکړي کیدلای شي.

دخریه ټولنو بهرنې کارکوونکي به له افغانستان څخه ووځي او د دوي بشري فعالیتونه به په ټپه و دریږي چې دا کار به عام ولس او غریبو خلکو ته دیوه ناورین معنې ولري.

دا چې متحده ایالات او ملګري يې د کرزي اداري ته ډاډ ورکړي چې که بريد وشي نو دوی به افغانستان نه هیروي خو بیا هم د افغانستان عام وګړي ژوري اندیښنې لري او څوریږي چې هسې نه یو ځل بیا د نړیوالو له نظره ولوېږي.

برای محو مزارع تریاک راه معقول جستجو گردد

رهروان

علي الرغم اینکه دولت انتقالي اسلامي افغانستان جهت محوکشت خشخاش و جلوگیري کامل از قاچاق آن به کمک جامعه بین المللي مبارزه را براه انداخته است، هنوز هم در بعضي نقاط افغانستان دهقانان به زرع تریاک مي پردازند و همین اکنون اراضي زراعتي در برخي از ولسوالي هاي ولایات ننگرهار، لغمان، نورستان وکنر به مزارع خشخاش مبدل شده است.

کسانیکه از ولایات غربي وجنوب غربي افغانستان به کابل مي آیند از مزارع خشخاش در برخي ولسوالي هاي آن ولایات نیز خبر میدهند.

از انجا که فرمان دولت انتقالي اسلامي مبني بر منع کامل کشت خشخاش صادر شدهٔ و در سال آینده بر اساس این فرمان اراضي خشخاش بدون پرداخت امتیازي به دهقانان نابود خواهد شد و به دهقانان توصیه خواهد شد که در بهار بجاي آن ترکاري و دیگر حبوبات کشت کنند دهقانان کم زمین سال آینده بهار دشواري را سپري خواهند کرد. چند تن از دهقانان کم زمین خوایاني ولایت ننګرهار بنامهاي صابر کاکا، عبدالرحیم وفضل الرحمن مي گویند که در خوایاني تقریباً اکثریت مردم از نیم جریب تا یک جریب زمین دارند و در سال هاي بعد از کودتاي ۷ ثور که آنها آواره شدند جنګلات شان تا راج شد خانه هاي شان بویرانه مبدل گشته، باغهاي کوچک و درختان آنها از بیخ وبن ویران شد و در بازگشت آنها بعد از جنګ هاي پي درپي داخلي در زمستان اکنون نه جنګلات کوهي است ونه دارو درخت ونه آن زمینه مالداري وصنعت دستي که خشکسالي هم رنج دیگري بر رنجهاي دهقانان افزوده است.

درینصورت هر گاه دهقاني که یک جریب زمین دارد و آنرا گندم کشت بنماید تا رسیدن به چند بار آبیاري نیاز دارد که درین سال ها آب نمي رسد و بیش از ۲۰ سیر گندم نمیکند که از قرار في سیر گندم پنجاه افغاني یکهزار افغاني حاصل آن مي شود هر گاه یک جریب زمین خشخاش زرع گردد سه لک افغاني براي زمیندار عاید مي شود که با آن مي تواند یکسال به راحت زنده گي نماید دهقانان میگویند که ما میدانیم این کار غیر شرعي وغیر قانوني است اما انسان براي زنده ماندن گاهگاهي مجبور است که به کار غیر قانوني دست بزند و تقریباً اکثر مردم امروز اگر تریاک کشت نمیکنند کار هاي غیر قانوني دیگر را بخاطر زنده ماندن انجام میدهند هر گاه کار سالم و قانوني وشرعي براي شخصي پیدا نشود مجبور است دست به کار غیر قانوني بزند که در انجام هر کار غیر قانوني خساره جاني یا مالي براي همنوع دیگري در خود نهفته دارد.

عبدالرحیم باشنده وزیري خوایاني گفت: کار ما غیر قانوني است ولي امروز سبا مردم اعمال غیر قانوني را بخاطر زنده ماندن انجام میدهند که هر گاه خداوند (ج) رحم کند آب فراوان بر زمین جاري کند و داشته هاي طبیعي قبل از جنګ براي ما باز گردد و همچنان مکاتب، کلینیک ها و سرک هاي ما دوباره بازسازي شود و جوانان ما به کار مصروف شوند دیگر در منطقه ما خشخاش دیده نخواهد شد اما امروز که مردم باز گشته به خانه وکاشانه شان هیچ چیز حتي شغل وکار ندارند و خشک سالي هم است، تریاک یا خشخاش زرع میکنند زیرا به آب کم نیاز دارد و حاصل بسیار براي دهقانان از ان بدست مي آید.

بهر صورت و بهر شکلي که باشد کشت خشخاش به این پیمانه براي جامعه بشري و براي خود افغانها ضرر دارد د باید فرامین دولت انتقالي اسلامي بهر شکلي که باشد عملي گردد و مزارع خشخاش نابود گردند سال گذشته فرمان ادارهٔ موقت بران صادر شده بود که به کمک جامعه بین المللي در برابر از بین بردن في جریب زمین خشخاش ۳۵۰ دالر براي دهقانان پر داخته شود ولي بگفته بعضي دهقانان درسرخرود ننګرهار و شینوار، مزارع خشخاش آنها در پیشروي شان از بین برده شد اما در برابر یک جریب زمین شان یک دالر هم تاکنون سال ۱۳۸۱ بدست نیاوردند و این باعث شد که دهقانان بیشتر تریاک بزر نمایند تا مفاد دوساله را بدست آورند در جلسه ماه جدي سال ۱۳۸۱ کمیسیون عالي مبارزه با تولید و قاچاق مواد مخدر گفته شده که باید ۳۵۰ دالر در برابر في جریب زمین که وعده داده شده بود به دهقانان داده شود که این ادعاي دهقانان را مبني برینکه پول وعده داده شده را در برابر تخریب مزارع خشخاش شان نگرفته اند ثابت میازد وگویا که در سرها از طرف مجریان امور حیف و مبل شده وبه دهقانان نرسیده است.

دهقانانیکه براي سال آینده خشخاش زرع کرده اند از عدم توزیع مقدار معین دالر در برابر في جریب زمین تریاک شاکي میباشند.

و اما سال آینده با زارعان تریاک چگونه رفتار خواهد شد؟ تطبیق فرمان بدون اینکه امتیازي براي دهقانان داده شود و یا باز هم به مشکلات دهقانان اندیشیده شود و به خواسته ها و پیشنهادات شان گوش داده شود تطبیق مي شود ایجاب میکند همین اکنون با دهقانان در گنج و کنار افغانستان که تریاک زرع کرده اند مذاکره صورت گیرد در غیر آن ما در بهار سال آینده شاهد جنګ هاي بر سر مزرعه خشخاش خواهیم بود که فکر من خسارات وارده ازان به مراتب بیشتر ازان خواهد بود که با دهقانان در زمینه قبلاً مذاکره صورت گیرد و به آن راضي ساخته شوند که خود در آغاز بهار مزارع تریاک را قلبه کرده به زرع حبوبات دیگر بپردازند در غیر آن کار زور و جبر را در زمینهٔ محو مزارع تریاک در پیش گرفتن نتیجه همان خواهد بود که ماطي ۲۳ سال تلختر ین آنرا تجربه کردیم.

منصه‌ی صفحه زړه

خواندنیهای جالب

حکایاتی از بهلول

• روزی بهلول با پای پیاده از خیابانی عبور می کرد که ناگهان مرکب خلیفه با جلال و شکوه تمام نمایان گشت. خلیفه که بهلول را کاملاً می شناخت، صدا زد، بهلول خیلی تعجب می کنم که چرا پیاده روان هستی پس خرت راچه کردی؟ بهلول بدون تامل جواب داد یا حضرت خلیفه! دو سه روز قبل الاغم عمرش را به شما بخشید.

• قرار بود خبر مرگ پدری را به پسرش برسانند، دوستان هیچکدام طریق صاحبی را سراغ نتوانستند تا انکه بهلول را مامور کردند. بهلول نزد آن شخص رفت و گفت: شنیدم که مرحوم پدرت دراواخر عمر قدری مریض بود، که بحمدالله دو سه روز قبل مریضی او بر طرف شده و به رحمت ایزدی پیوست.

• روزی بهلول نزد قاضی بغداد نشسته بود که قلم قاضی به زمین افتاد، بهلول صدا زد قاضی بردار کلندت را. قاضی در حالیکه می خندید و زحمت برداشتن قلم بر خود میداد گفت بهلول واقعاً دیوانه هستی اینکه قلم است نه کلند. بهلول جواب داد، دیوانه آنست که ندانند در دست چه دارد، آیا احکامی با دست داشته ات می نویسی خانه بر انداز نیست؟

• شخص ثروتمندی خواست بهلول را درمیان جمعی به تمسخر بگیرد، خطاب به او صدا زد بهلول هیچ شباهتی بین من و تو هست؟ بهلول گفت البته که هست. مردک گفت کدام چیز های ما. بهلول گفت: بیشتر دو چیز ما به هم شباهت کامل دارند یکی جیب من و کله تو که هر دو خالی اند و دیگر جیب تو کله من که هر دو پراند.

• روزی هارون الرشید به اتفاق بهلول به حمام رفت. خلیفه از روی شوخی به بهلول گفت: بگو ببینم اگر من غلام تو بودم چقدر ارزش داشتم؟ بهلول جواب داد: پنجاه دینار. خلیفه غضب ناک شده گفت: ای دیوانه قیمت لنگی که به خود بسته ام پنجاه دینار است. پس قیمت خودم چی؟ بهلول جواب داد: من هم فقط قیمت لنگ را گفتم که ارزش داشت.

لهفته لویی وچی ته هڅله چې یکی اوسیږی

د آسیا لویه وچه د تقریباً ۴۴۵۰۰۰۰۰ کیلومتره مربع د مساحت په درلودلو سره د نړۍ تر ټولو لوړ غرونه او د نړۍ تر ټولو ستری او پراخی دښتی په دغه لویه وچی کې واقع دی. ددغی لوئي وچی د پراختیا له کبله په ځو سیمو کې د آب او هوا ترمنځ د پر توپیرونه لیدل کیږی د نړۍ ستر دینونه لکه د اسلام مبارک دین، مسیحیت، کنفوسیوسی، یهودی او برهمائ دینونه په دغه لویه وچی کې د پر پلویان لری. د نړۍ تر ټولو ستر سیند (خزر) په دغه لویه وچه ئی واقع دی، د نړۍ تر ټولو پخوانی تمدنونه په آسیا کې منځ ته راغلی او د سلونو کلونو لپاره سترو امپراطوریو په دغه لویه وچه حکومت کړی دی.

اثرات غذایی وشفائی ترب

ترب را بعنوان اشتها آور، هضم کننده غذا، خارج سازنده گازات معده، باغذا می خورند ولی از آنجاییکه خودش دیر هضم است. اشخاصی که معده ضعیف دارند نباید آنرا بمصرف برسانند. در موارد یکه ترب به عنوان دوا برای معالجه بکار گرفته می شود مقدار مصرف از جرم ترب ششصد تا هفتصد گرام در ۲۴ ساعت تجویز می گردد. بطوریکه صبح و ظهر وشب هر مراتبه یک سوم این مقدار تناول می شود.

مقدار مصرف آب ترب هزار گرام در ۲۴ ساعت است و از تخم ترب بمقدار سه عشاریه ۵ گرام در شبانه روز هدایت شده است زیرا تخم ترب در جمیع خواص و افعال قوی تر از اصل ترب میباشد. بطور کلی اثر شفابخش تر در معالجه بیماری های انسانی از قدیم الایام شناخته شده و بشرح زیر از سوی اطبا تائید گردیده است.

۱. برای رفع سنگهای صفراوی و زردی (یرقان) مفید است بشکلی که بیمار سه صد گرام آب ترب را صبح و به همین مقدار را ظهر و همچنان شب بنوشد.

۲. خوردن آب ترب و یا تخم آن در تمامی مواردی که

بیمار دچار اختلال ترشح صفرا (حتی با منشاء التهابی) خیلی ها مفید است.

۳. صرف جوشانده ترب برای رفع سرفه های مزمن و رفع تاخیر قاعدگی زنان مفید است.

۴. برای اخراج سنگ مثانه موثر است اگر آب ساقه ها و شاخه های ترب (بدون برگ آن) به مقدار هفتصد تا هفتصدوپنجاه گرام در یک مراتبه و یا به فاصله های متناسب میل شود.

۵. تداوم در صرف ترب برای روئیدن موهای که ریخته شده باشد مفید است.

۶. مالیدن آب ترب بربدن مانع گزیدن حشرات می کردد.

۷. سرما زده گی دست و پا وتورم آنها را بهبود می بخشد.

۸. خوردن تخم ترب به اندازه ۲ گرام در شبانه روز باعث افزایش عرق بدن، زیاد کردن شیر و ادرار می شود و همچنین برای رفع ورم طحال و درد کبد مفید است.

۹. لکه های سیاه بدن را بر طرف می کند بطوریکه تخم ترب را در سرکه اخته کرده در محل لکه ها قرار دهند.

۱۰. برای تسکین درد مفاصل مفید است بگونه ای که تخم ترب را با عسل یکجا ساخته در محل درد بگذارند.

په نړۍ کې ترټولولرغونی اوبی مثاله اوه شیان دی چې دنړۍ داوه گونوعجایبوپه نامه دیږی، دعجایب لاندی برجونه، معبدونه، مجسمی باغونه اواهرامونه دی:

۱. په مصر کې د جیزی ستر هرم

۲. په بابل کې معلق باغونه

۳. په یونان کې د دیان معبد

۴. په یونان کې د زئوس مجسمه

۵. په یونان کې د رودس مجسمه

۶. په هالیکارناس کې د موسولئوم مقبره

۷. په مصر کې د اسکندرئي د سیند برج



د نړۍ اوه کونی عجایب

طویل ترین مار های دنیا

جنوب شرق اسیا بخصوص کشور های فلپائین و اندونیزیا سرزمین مار ها خوانده می شود زیرا انواع مار ها و به تعداد کثیری در کشور های واقع در این منطقه زنده گی دارند. طویل ترین ماری که تاکنون به اسارت انسانها در آمده است در اندونیزیا لانه داشت این مار که در سال ۱۹۱۲ بدام افتاده، است ۳۴ فت و ده انچ طول داشت که به سال ۱۹۶۰ در امریکا جنوبی دریافت شده تناسب ماری که در

بود و ۲۷ فت و ۹ انچ طول و دو صدوبیست و هفت کیلو گرام وزن داشت هفت فت و یک انچ دراز تر بود.

تا اکنون مار های طویلی که اسیر شده به ترتیب آتی نامگذاری و اندازه شده اند.

اژدهای جالی دار	۳۵ فت
انا کوندا	۲۸ فت
اژدهای هندی	۲۵ فت
اژدهای الماس	۲۱ فت
شاه کفچه ها	۱۹ فت
اجگر	۱۶ فت
بش ماستر	۱۲ فت
جوره مار	۱۱ فت
[illegible]	[illegible] فت
مارنیلی	۸ فت

حاکمانو ته وایم

گل پاچا الفت

ای هغو کسانو چې ستاسې په لاس کې د حکومت لښته ده ستاسې په امر یو سړی وهل کیږي، ترې کیږي، جرمې کیږي او هر څه کیږي. ستاسې په نظر به یو بې ګناه په محبس کې لویږي، او یو ګناهګار له بنده خلاصیږي.

ستاسې په عدالت مظلومان له ظلمونو نجات مومي او ستاسې په بې انصافی ظلمونه، جرونه په عالم کې خپریږي.

ستاسې غفلت او بې خبرې عالمونه تباه کوي او ستاسې په ویښتوب او هوښیار توب ډیر ښه ښه کارونه کیدلی شي.

که تاسې په سمه او صحیح لار روان شي ډېر بې لارې خلك به په لار کیږي که تاسې پخپله د نفس او شیطان په لاره درومی نو په عالم کې د ظلمونو له لاسه بې تمیزه قیامت او بې میزانه محشر جوړیږي.

ستاسې فساد د ډېرو فسادو باعث ګرځي او ستاسې په اصلاح ډېر ډېر اصلاحات کیدای شي.

ستاسې په لاس کې د حکومت زور او قوت موجود دی که تاسې لیوان یا لیونیان شی د خدای مخلوق تباه کیږي.

که تاسې ماشومان او اطفال اوسئ ستاسې په طفلانه لویو ډېر کورونه خرابیږي.

که تاسې رانده او کانه شی حق او عدالت مري او ظلمونه، فسادونه، بدبد، کارونه رواج مومي، تاسې پدې پوه شي چې د دنیا د نظام او انتظام دپاره خدای دوه شیه پیدا کړي دي. چې یوه ته حکمت او بل ته حکومت وایي:

حکومت هېڅکله بې له علم او پوهې، بې له تدبیر او سیاست څخه چې له دې ټولونه په حکمت تعبیر کیدلی شي مخکښې نه ځي او تش کوتك په دنیا کې نه چلیږي.

اوس په متمدنه او مترقي دنیا کې یو سړی په ډېر علمي لیاقت او لوړ شخصیت حاکم کیدلی شي او هغه څوك دغه رتبه او مرتبه ګټلی شي چې په تدبر او سیاست کې او له درجه مهارت لري او د مهمو صفاتو خاوندوي.

مګر په تاسې کې لا اوس هم بې سواده، بې ذوقه، بې علمه، بې رحمه، بې انصافه او له جهانه ناخبره اشخاص پیدا کیږي، چې بې رشوت اخستلو، وهلو او ټکولو، کنځلو او بدو ویلو په نور څه نه پوهیږي او نشي پوهیدلی.

تاسې پدې پوه شي چې حکومت پس له دینه تجارتي متاع نشي کیدلی. چې څوك بې په پیسو او رشوتونو واخلي. هغه وخت او زمانه په تیریدو کې ده چې څوك د حکومت چوکۍ په خوشامندو او تملقونو وساتلی شي یا ظلم او بې شعوره قوت په یوه منطقه کې حاکمیت وکړای شي.

مور د ددې عصر په شپوکې دا خوبونه لیدلي دي چې علم او لیاقت، خیر او اصلاح به ډېر ژر خپله کرسی اشغال کړي او جهل و نادانې، ظلم، ستم، ریاکاری او فریب کاري به له خپلې چوکۍ راولویږي. تاسې خپل ځانونه اصلاح کړي او پخپل ځان ګوتې ووهئ مقصد ظاهري فیشن او ارایش نه دی بلکې د عیبونو اصلاح او د ځان معنوي جوړول مراد دي.

راشئ دا زړه طریقه نوره پریږدئ او هر کار د سوتې په زور مه کوئ!

انسانان خدای د وهلو او ټکولو د پاره نه دي پیدا کړي.

د مجرمینو د قایلولو او اصلاح کولو د پاره نور وسایل هم شته. ظلم په ظلم باندې هېڅ کله نه ورکیږي. تاسې به ډېر خلك په وهلو معیوب کړي وي.

ډېر کسان به ستاسې د شدت او تشدد له لاسه تبتیدلي او ورك شوي وي، مګر جرایم او جنایتونه نه دي ورك شوي.

یو شاعر وایي:

د انسان اصلاح په پوهه انسان کړي ناپوهان یې په وهلو د انسان کړي

نو راشئ له علم او پوهې نه کار واخلی ظلمونه او جبرونه پریږدئ!

بې ګناه خلك په وهلو او ټکول مه قایلوئ!

په رشوتونو او لحاظونو له حق او حقیقت نه مه تیریږئ او د یوه په ګناه بل ته جزاء مه ورکوئ!

تاسې پخپل نفس او خپلو خواهشاتو حاکمیت پیدا کړئ او د همدغه حاکمیت په اثر ځانونه د ددې لایق کړئ چې په نورو داسې حکومت وکړی لکه چې یو پلار ئې پخپلو زامنو باندې پخپل کور کې کوي او هیڅ راز ظلمونه پکې نه وي.

کار ملت شده زار

ع سرگردان

آزمونست که تو، چون کنی ای مرد شعار!
ایکه گفتی که کنی فصل خزان را تو بهار
چور چوکی نکنند هیچگهی چاره کار
همه گفتیم رسیده ست به پایان شب تار
کار ملت شده زار

ماهها رفت ولی حالت کشور ویران
لیک تو خفته و مومیایي به لاکت حیران
تو همانی وهمانی و همانی وهمان
هستی تا برخرشیطان بدینگونه سوار
کار ملت شده زار

آمدی تو که کنی داروودرمان وطن
تا زدی تکیه به چوکی، شد زتن جان وطن
پاره شد پاره به دست توگریبان وطن
رشوت وچور فزونتر شده از پیش وپرار
کار ملت شده زار

هر چی نقدینه و از جنس رسد غصب کنی
خویش و اقوام به هر چوکی چرا نصب کنی
رسم خود خواهی و افزون طلبی کسب کنی
داده ای مردم دیگر همه از ملک فرار
کار ملت شده زار

خویشتن ذیحق میراث وطن میدانی
همه را مایهٔ تخریب وفتن میدانی
دیگران را تو سزا وار کفن میدانی
رحم کن رحم به ویرانی این ملک نزار
کار ملت شده زار

دستت آلوده به خون گشته ودیگرچی کنی؟
مال ملت همه را برده فزونتر چی کنی؟
کردی صدگونه جفا بناز مکرر چی کنی؟
برسر ما تو زدی عاقبت الامر قهار
کار ملت شده زار

دست دنیا شده این بار دریغ خطه دراز
تا وطن آورد از چاه ضلالت به فراز
میکنی تا به کی اینگونه به بالا پرواز
سرکشی میکنی از راه حقیقت هر بار
کار ملت شده زار

جور بسیار کشیدیم زاندازه فزون
با تفنگ توبیفتاد ه هزاران در خون
ثمر کار تو باشد بخدا جهل وجنون
ایکه خود میکنی تو ذیحق وشایسته شمار
کار ملت شده زار

همه جا کرده ای قوروغ نتوانی کاری
میرسد هر گه زدست تو به کس آزاری
داری با خاین و با توطئهٔ افگن کاری
دزدورهزن شده در هر ره وبیراهه قطار
کار ملت شده زار

هست از سال نکویت چه بهارش پیدا
شدی در دزدی و در چور به عالم رسوا
کردی صد توطئه و رخنه و صد گونه دغا
باشد آن سال نکوی تو همین فصل بهار
کار ملت شده زار

نامه وارده

ریاست های اختصاصی فامیلی در دوایر دولتی

از آوانیکه خبرهای سرچوک در رابطه به ازدیاد معاشات مامورین سرزبانها می لولد، وندزدن و چور کرسی های عادی دولتی نیز آعاز گردیده زیرا در بعضی از ادارات دولتی در حالیکه ده ها تن از مامورین سابقه دار شان ماه ها را بدون سر نوشت به شکل انتظار بدون معاش سپری می نمایند. اشخاص و افراد وابسته به مسوولین را برق آسا حتی به عوض مامورین سابقه دار ولی بی واسطه مقرر نموده وبی شرمانه لقمه نان فامیلی را می بلعند . این وندبازی ها وچورچوکی های عادی دولتی را میتوان به خوبی درشاروالی کابل سراغ نمود. طورمثال یک تن از روسای شاروالی کابل که خود براساس روابط نامعقول ونامشروع شخصی،پست اساسی مسلکی ای را اشغال نموده،درحالیکه ازتقررش دراین پست مدت اضافه تر ازیکسال می گذرد ،نه تنها به نفع اداره تحت اثرش جزئی ترین حرکتی مثبت را انجام نداده است برعکس دربدنام ساختن اداره مقام اول را نصیب گردیده که زبان زد خاص وعام شده ،درحالیکه موصوف درمقایسه با پست کاری اش ازنگاه مسلک فرسخ ها فاصله دارد اما باخوش خدمتی بی شرمانه خاصیکه برای مسوولین امورانجام میدهد،نزدبعضی ازمسوولین شاروالی ازحیثیت واعتبارخاصی برخوردار است .وی طی مدت یکسال برعلاوه سو استفاده های ناجایز مادی اش که اداره با حیثیت وآبروئی را به یک رهنمای معاملات مبدل ساخته ،توانسته است خانم اش را که درسال های قبل،چندماه را دریکی از ادارات دیگر صرف حاضری امضاء نموده وبعداً ازوظیفه اش نسبت نداشتن قدرت کاری وقوه ادراک سبکدوش شمده بود .به عوض یک تن ازکارمندان سابقه دار اداره تحت امرخویش تعین بست نماید که ازیکسو با قانون کارکنان دولت درمغایرت کامل قراردارد وازجهت دیگر تقرر مامورربته ده درپست مسوول یک شعبه نوع از نارسائی های دیگر اداری را نشان میدهد .با وصف آن خانم جناب رئیس صاحب صرف دردوهفته یک مراتبه جهت امضاء نمودن حاضری اش به اداره تشریف فرما می شود که آنروز را درکمال غبرت تام دردفترشوهرش به سرمی برد . همچنان جناب رئیس صاحب با استفاده ازموقفش در این اواخر برعلاوه خانم اش،برادر،شوهر همشیره اش ونیز یک تن ازخواهرخوانده هایش را درپست های تحت اثر خود مقرر نموده وجالبتر ازهمه اینکه اخیراً پیشنهادیه را مبنی برعزل چندتن ازمامورین سابقه دار ریاست تحت امرش را که درجمله آنها چند تن ازافراد مسلکی نیز شامل می باشند به مقام شاروالی کابل تقدیم نموده که جناب سرپرست شاروالی کابل ،غرض ابراز احساسات دوستانه اش دربرابر خدمات جناب رئیس ،مغایراحکام قانون حکم فرموده اند تاطورعاجل به سبکدوشی مامورین مندرج پیشنهادیه اقدام گردد.ضمناً جناب رئیس با اخذحکم فوق ،باالمقابل سه قطعه درخواست تقرر جدید را ازسه تن به اصطلاح خواهرخوانده های جدیدش غرض احکام تقررشان ازمقام شاروالی گرفته که بدون شک عنقریب مقام شاروالی با الطاف بی پایان اش با جناب رئیس صاحب هدایت لازمی را عنایت خواهند فرمود که دراین صورت میتوان ریاست مذکوررا به ریاست اختصاصی فامیلی جناب رئیس صاحب مسمی نمود.

ش . د

In this issue:

1-We want justice
2-Bad situation in the country
3-Special family directorships in government administrations
4-Entertainment page
5-Bomb explosion in Kandahar
6-Ten robbers are arrested in Zabul
7-Three more *Tata* buses from Indian aid
8-Suitable solutions should be found about poppy cultivation
9-Social life improves in peace
10-Dead body of Jomma Mohammad is not found yet
11-Probable attack on Iraq and opinions of Afghans
12-I tell the governors

کارتون: جمال توکی

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (مینهای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ ، ۰۷۰۲۷۹۳۰۴

زیر نظر هیأت تحریر انتشارمیابد
اراده
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
مدیر مسوول : ظهور افغان
سکرتر مسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"

موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز ودیزاین: انجینیر:محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یك شماره ۲ افغانی